**بسم الله الرحمن الرحيم**

# یوازې د خلافت لښکر به یهودو مخه ونیسي!

(ژباړه)

**خبر:**

د غزې د خلکو پرلپسې ټول‌وژنې، محاصره، لوږه او کړاوونه روان دي؛ خو د یوې اسلامي خاورې د حکامو غږ پورته نه شو!

**تبصره:**

په غزه کې ټول‌وژنه روانه ده؛ د ورځې سلګونه کسان شهیدانېږي او د ټپیانو شمېر یې له حده واوښت. محاصره او لوږه هم د غزې له مسلمانانو قرباني اخلي خو د اسلامي خاورو د حکامو چوپتیا لږ هم نه ماتېږي او پوځونه یې په اډو کې بېکاره پراته دي. په حقیقت کې دوی په خپل دغه کار د یهودي خونخوار رژیم ساتنه کوي او د اسلامي امت بچیان د یهودو پر وړاندې عمومي بسیج څخه منع کوي. د اسلامي خاورو د حکامو په منځ کې داسې کسان هم شته چې یهودو ته د غزې د خلکو د وژنې لپاره اوبه، خواړه او ان وسلې او مهمات برابروي.

نتنیاهو خپل وحشت ته دوام ورکوي، ځکه پر وړاندې یې څوک نه ویني چې د دغې ګستاخۍ مخه یې ونیسي؛ هغه باوري دی چې د اسلامي خاورو پوځونه د دغو ذلیلو، خاینو او دسیسه‌ګرو حکامو تر بیرغ لاندې د یهودو پر وړاندې وسله نه پورته کوي؛ دغه وحشي قاتل داسې لښکر نه ویني چې پر غاړه یې پښه کېږي، ژبه او لاس یې پرې کړي او د اشغالګر پوځ شر یې د غزې او فلسطین له خلکو لرې کړي.

خو موږ به نهیلي او تسلیم نه شو؛ اسلامي امت او پوځونه به یې تل هڅه کوي چې ځان د دغو خاینو حکامو له منګولو وباسي؛ که خدای کول دا ځنځیرونه به مات کړي، ځان به ازاد کړي او هغه عظیم دولت، خلافت به تاسیس کړي چې یهود او غربي ملاتړي یې لا په خوب کې ترې وېرېږي. هغه وخت به زموږ پوځونه د خلیفه تر شا روان شي او ځمکه به د یهودو له چټلۍ پاکه کړي؛ دښمن ته به داسې ځواب ورکړي چې تاریخ به یې هېر نه کړي! هغه وخت به ظالمان خپل مسیر ومومي!

**لیکوال: خلیفه محمد**

**۱۴۴۵هـ.ق، د مضان المبارک ۲۰مه**

**۲۰۲۴م کال د مارچ ۳۰مه**